لوړو زده کړو وزارت

پکتیکا پوهنتون ریاست

د علماء کرامو کمېټه

# د علماء کرامو د کمېټې له لوري د علمي آثارو د شرعي، کلتوري او فکري کتنې پالیسي

کال ...........................................................................: ۱۴۴۷ هـ ق

**بسم الله الرحمن الرحيم**

## سریزه(مقدمه)

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده. أما بعد:

د اسلامي امت د علمي میراث د حفاظت، د فکري او عقیدوي انحراف د مخنیوي، او د اسلامي شریعت د اصولو د خالص تطبیق په موخه، د افغانستان اسلامي امارت د لوړو زده کړو وزارت د ټولو پوهنتونونو څخه غواړي چې د علمي چارو هر اړخ د شریعت په رڼا کې تنظیم کړي.

پکتیکا پوهنتون، چې د لوړو زده کړو وزارت د علمي نظام یو مهم جز ګڼل کیږي، ځان مکلف بولي چې د خپلو استادانو، محصلینو او څېړونکو ټول علمي آثار، لکه: تالیفونه، ژباړې، تحقیقات، مقالې او مونوګرافونه د اسلامي شریعت له احکامو، د اهل السنة والجماعة له عقیدې، د حنفي فقهې له استنباطاتو ، د اسلامي امارت له پالیسۍ او د اسلامي کلتور له ارزښتونو سره په بشپړ مطابقت کې وساتي.

د اسلامي شریعت د منهج له مخې علم هغه وخت برکت مومي، چې د عقیدې او فقهې له صحیحو اصولو سره سم وي. الله تعالی فرمایي: فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ٧ (الانبیاء ۷) ژباړه: که تاسې نه پوهیږئ، نو د علم له خاوندانو څخه پوښتنه وکړئ! او دا د همدې پالیسۍ اساس دی، چې د علمي آثارو شرعي کتنه د "أهل الذکر" له لوري وشي، څو علم د حق په رڼا کې وده وکړي او د باطل له نفوذ څخه خوندي پاتې شي.

په دې لړ کې لیدل کیږي چې د علمي فعالیتونو، څېړنو او تالیفونو له لارې د پوهنتوني چاپېریال فکري فضا اغېزمنېږي؛ نو ځکه اړتیا ده چې د هر علمي اثر د خپرېدو، دفاع او ترفیع نه مخکې د علماء کرامو د یوې معتبرې کمیټې له لوري وکتل شي، څو د علمي ازادی تر څنګ د شرعي سلامتۍ او فکري اعتدال تضمین هم وشي.

دغه پالیسي د همدې هدف لپاره جوړه شوې ده، څو د علمي اثارو د کتنې، تایید او ثبت لپاره یو واضح، منظم او شرعي چوکاټ وړاندې کړي.

## د پالیسۍ موخې

د دې پالیسۍ موخې دا دي چې:

1. د استادانو او محصلینو ټول علمي آثار د اسلامي شریعت، حنفي فقهې، او د اهل السنة والجماعة د عقیدې له اصولو سره سم وي.

2. د اسلامي امارت د فکري، فرهنګي او علمي پالیسیو ملاتړ او مراعات وشي.

3. د پوهنتون د علمي آثارو د ثبت، ارزونې او تائید یو واضح اداري بهیر رامنځته شي.

4. د اسلامي کلتور د خالص ساتنې او د افراطي یا مغربي نظریاتو د نفوذ مخنیوی وشي.

## د تطبیق ساحه

دغه پالیسي د لاندي علمي آثارو لپاره عملي ده:

1. د استادانو تالیفونه، ژباړي، تحقیقات او علمي مقالي (د ترفیع، نشر او علمي اعتبار لپاره).

2. د محصلینو مونوگرافونه او څېړنیزي پروژې.

3. د پوهنتون د علمي مجلې لپاره وړاندي شوي لیکني.

## د کتني اداري کړنلاره

۱. د استادانو د آثارو بهیر:

الف: هر استاد چې د ترفیع، نشر یا علمي ارزوني لپاره اثر وړاندي کوي، باید خپل اثر د خپل اړوند دیپارتمنټ له لاري د پوهنځي ریاست ته په رسمي مکتوب سره وسپاري.

ب: د پوهنځي ریاست یاد اثر په رسمي مکتوب سره د پوهنتون ریاست ته لیږي.

ج: د پوهنتون رئیس دا اثر د علماوو د کتني کمیټې ته راجع کوي، ترڅو له شرعي او فکري اړخونو وکتل شي.

د: د کتني له بشپړېدو وروسته، د کمیټې فیصله په لیکلي ډول د پوهنتون ریاست ته وړاندي کېږي.

۲. د محصلینو د مونوگرافونو بهیر:

الف: د هر دیپارتمنټ محصلین چې فارغېږي، د خپلو مونوگرافونو ټولګه باید د څانگي له لاري د پوهنځي ریاست ته واستوي.

ب: د پوهنځي ریاست د ټولو څانگو مونوگرافونه د فهرست سره یوځای د پوهنتون ریاست ته رسما لیږي.

ج: د پوهنتون ریاست بیا ټول مونوگرافونه په ترتیب سره د علماوو کتني د کمیټې ته سپاري، ترڅو له شرعي، فکري او فرهنگي اړخونو وڅېړل شي.

## د کتني کمیټه

1. د کتني کمیټه د پوهنتون د رئیس تر مشرۍ لاندي جوړېږي.

2. د کمیټې غړي: د شرعیاتو پوهنځي رئیس، د پوهنتون د دعوت او ارشاد آمر، د شرعیاتو پوهنځي او اسلامي ثقافت څانگې ټول استادان.

3. کمیټه کولای شي د اړتیا پر مهال نور متخصصین د مشورې لپاره راوبلي.

## د کتني معیارونه

کمیټه د هر اثر په کتنه کې لاندې ټکي ارزوي:

1. د اسلامي شریعت له احکامو او اصولو سره مطابقت.

2. د حنفي فقهي له جزئیاتو او د اهل السنة والجماعة له عقیدې سره سمون

3. د اسلامي امارت له پالیسیو او د اسلامي کلتور له ارزښتونو سره موافقت.

4. د فکري، سیاسي یا مذهبي انحراف نشتوالی.

## د کتني پایله

1. که اثر له شرعي، فکري او علمي اړخه سالم وي، کمیټه یې تائیدوي.

2. که اصلاح ته اړتیا ولري، لیکوال ته د تعدیل لپاره استول کیږي.

3. که اثر له اصولو سره په ټکر کې وي، کمیټه یې ردوي او د رد علت په لیکلي ډول څرګندوي.

## د تائید سند

د هر تائید شوي اثر لپاره د کتني کمیټه رسمي سند صادروي چې پکې دا جمله شامله وي:

یاد اثر د اسلامي شریعت له اصولو، د اهل السنة والجماعة له عقیدې، د اسلامي امارت له پالیسیو او د اسلامي کلتور له ارزښتونو سره مطابقت لري.

## د کتني موده

الف: د هر اثر کتنه باید د سپارلو له نیټې څخه تر ۳۰ ورځو پورې بشپړه شي.

ب: د عاجلو قضیو په صورت کې د پوهنتون رئیس کولای شي دا موده لنډه کړي.

## د پالیسي د څارني او تطبیق مرجع

د دې پالیسي د تطبیق مسؤلیت د پکتیکا پوهنتون د رئیس په غاړه دی.

د علماوو کمیټه مکلفه ده چې هر کال خپل راپور د پوهنتون ریاست ته وسپاري.

پورتنۍ پالیسي د علماء کرامو د کمېټې په (۴) گڼه پروتوکول او ۲۰\۵\ ۱۴۴۷ گڼه غونډه کې له تائید وروسته د پکتیکا پوهنتون د علمي شورا په (۲۲۴/۲۴۹) کڼه پروتوکول او۲۶\۵\ ۱۴۴۷ گڼه غونډه کې تائید شوې ده.

مولوي شبیر احمد عباس

د پکتیکا پوهنتون رئیس